زما پدې جومات کې یو لمونځ په نورو جوماتونو کې له زرو لمونځونو څخه غوره دی پرته له مسجد الحرام (بیت الله) څخه

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «زما پدې جومات کې یو لمونځ په نورو جوماتونو کې له زرو لمونځونو څخه غوره دی پرته له مسجد الحرام (بیت الله) څخه».
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل جومات کې د لمانځه فضیلت بیان کړی او ویلي یې دي چې پدې جومات کې لمونځ د ځمکې په سر په نورو جوماتونو کې د زرو لمونځونو څخه ډېر ثواب لري، پرته له مسجد الحرام څخه چې په مکه مکرمه کې دی، ځکه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د جومات په پرتله هلته لمونځ کول غوره دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65090